## مطبوعاتي اعلاميه

## د کورنيو عوايدو زياتوالی "لاسته راوړنه" نه؛ بلکې د افغانستان پر مظلومو خلکو د پانګوالي نظام ظلم دی

د افغانستان د ماليې وزير اعلان وکړ، چې په روان کال کې د دغه هېواد کورني عوايد کابو ۱۷۰ميليارده افغانيو ته رسېدلي. دا شمېره په تېرو ۱٦ کلونو کې بې‌ساري ده او د افغانستان دولت لپاره د نړيوالو بنسټونو له ټاکلې موخې څخه لوړه ده. د ماليې وزارت دا موضوع د افغانستان دولت لپاره يوه "لاسته راوړنه" بللې ده.

موږ د دولت د عوايدو زياتوالی "لاسته راوړنه" نه؛ بلکې د خلکو د جېبونو او دسترخوان لوټول بولو؛ ځکه دا شمېره د واقعي اقتصادي ودې، د ريښتينو بنسټونو د رامنځ ته کولو، د توليداتو له زياتوالي او د خلکو د ژوند د کچې د لوړوالي او سوکالۍ له امله په لاس نه ده راغلې. برعکس دا عوايد زياتره د ګمرکي محصولاتو، پر شرکتونو او صنفي اتحاديو باندې د مالياتو د وضع کولو له لارې راټول شوي، چې درووند بار يې بېوزله خلک پورته کوي.

د افغانستان دولت تېر کال د پيسو د نړيوال صندوق او نړيوال بانک په توصيه نوې مالياتي کڅوړه لکه: د موبايل پر کارتونو ٪۱۰ ماليه، پر تجارتي معاملاتو دوه چنده ماليه، د هوايي حق العبور د فيس زياتوالی او پر ځينو ګمرکي محصولاتو د تعرفو زياتوالی، چې لومړنۍ بشري اړتياوې پوره کوي، وضع کړې ده. دا حالت د تورم د رامنځته کېدو، د پانګونې د کچې د ټيټېدو او د بېکارۍ او فقر د زياتېدو لامل کېږي، چې ويجاړوونکې اغېزې يې د خلکو د ژوند په ټولو برخو کې محسوسې دي.

د عوايدو دا ډول شمېرې که هر څومره لوړې شي، يوازې يو کميت او د اعدادو بې ارزښته لړۍ ده، چې زياتوالی يې يوازې له نړيوالو بنسټونو څخه د دولت د کرېډېټ اخيستو لامل کېږي، د خلکو پر ژوند هېڅ مثبت اغېز نه لري او دا د خلکو له جېبونو او دسترخوان څخه يو ډول غلا ده.

**د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**